PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

دحزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت دویم کال، ۵۱ مه ګڼه، چهار شنبه –۱۳۸۹ -هـ ل دوری ۱۱ مه - د ربیع الثانی ۱۵ -۱۴۳۱- هـ ق، ۲۰۱۰ م دمارچ ۳۱ مه

الهی فرمان

ای رسوله! هغه څه خلکو ته ورسوه چې ستا د رب له لوری پر تا نازل شوي دي او که دا کار دې ونکړ نو د رب پیغام دې په بشپړه توګه ونه رساوه. او الله پاک دې له خلکو څخه ژغوری. بېشکه چې الله پاک نه منونکي قوم ته لیار نه ښایي

المایده ۶۷

استاد عبدالعلي په ننګرهار کې د حزب اسلامی د ولایتي دفتررئیس وټاکل شو

تېره اونۍ د حزب اسلامي افغانستان د ننګرهار ولایتي دفتر مسئول مولوي صاحب نجم الدین ستوري د ځینو معقولو معذرتونو له کبله له خپلې دندې څخه استعفي ورکړه او د هغه پر ځاي د ننګرهار ولایت اجرائیه شوري د غړو، ولسوالیو، ناحیو، علماوو، د پوهنتون استادانو او د څوانانو د رایو په اکثریت محترم معلم صاحب عبدالعلي د ننګرهار د ولایتي شوري د دفتر د مسئول په توګه وټاکل شو او په عملي کار یې لاس پورې کړ.

سفر غیر منتظره اوباما به افغانستان

این اولین سفر اوباما به افغانستان از زمان به قدرت رسیدنش به عنوان رئیس جمهوری امریکا بود، به دلایل امنیتی سفر اوباما از قبل اعلام نه شده بود، او در افغانستان با حامد کرزی، رئیس جمهوری این کشور و سربازان امریکایی دیدار کرد.

سفر اوباما به افغانستان غیرمنتظره بود و روز یکشنبه (۲۸ مارچ) پس از حضور او در کابل به رسانه های گروهی اعلام شد. مقام های امریکایی گفته اند اوباما از کرزی خواسته است برای مقابله با فساد در نهادهای دولتی و نیز مبارزه با مواد مخدر بطور جدی اقدام کند.

آقای اوباما در کنفرانس خبری مشترکی با آقای کرزی گفت: "من می خواهم پیام محکمی بفرستم که همکاری بین ایالات متحده و افغانستان بقیه ص ۴

د ملګرو ملتو استازی د حزب اسلامی له پلاوی سره وکتل

د افغانستان دپاره د ملګرو ملتونو خاص استاځي د افغانستان د حزب اسلامي د يوې ډلې د استاځو سره په کابل کې کتلي دي .

د ملګرو ملتونو یو خبر لیک وایي چې (سنیفان دي مستورا) د حزب اسلامي د هیات خبرې واورېدې او ویې ویل چې د افغانستان د چارواکو سره د دوي لیدو کاتو د افغانستان په مشري د سولې هلې ځلې چې غواړي افغانستان ته ثبات راولي لاریاتې مهمې کړي دي . دا لومړي تایید شوي ملاقات دي چې د حکمتیار د حزب اسلامي د رالېږلي هیات او د ملګرو ملتونو ترمنځ کېږي.

زابل کی د ایساف یوه چورلکه را نسکوره شوه



ناټو وايي چي د ایساف یوه هلیکوپټره دزابل په ولایت کي، ددوشنبي په ورځ نسکوره شویده، څوک پکي مړه شوي ندي خو ۱۴ تنه پکي زخمي شویدي .

د زابل ولایت د پولیس امنیه قوماندان د فرانسي خبري اژانس ته وویل چي په هیلیکوپټره کي ۱۴ کسان سپاره وو او هغوي سرسري شان زخمي شویدي .

هغه وویل چي په دغه الوتکه کي د نړیوالو خدماتو غړي ، افغان عسکر او پولیس سپاره وو .

هغوي سمدلاسه دایساف نیږدي روغتون ته ویوړل شول. طالبانو ددغه ټکر مسوولیت په غاړه اخیستي دي.

ناټو وایي چي ددي ښبي ښباني نشته دي چي دا ټکر دیاغیانو د اعمالو نتیجه وي. د هیلیکوپټر د ټکر د عواملو په باب تحقیقات روان دي .

په یوه بل خبر کي ویل شویدي چي ددوي یو عسکر د بم په یوه حمله کي وژل شویدی. د ناټو ایتلاف په دې اړه نور تفصیلات ورنکړل .

طرح پیشنهادی حزب اسلامی افغانستان برای تامین صلح

تذکر:

اخیراً یک هیئت بلند پایه حزب اسلامی افغانستان به رهبری انجنیر گلبدین حکمتیار وارد کابل شده و بخاطر تامین صلح دایمی و ختم جنگ و بحران در کشور، گفتگوهایی با مقامات عالیه دولت، سران احزاب جهادی، معاونیت ملل متحد در افغانستان(یوناما) نماینده گان سیاسی جامعه جهانی در کابل و فعالین جامعه مدنی داشتند. این طرح پانزده ماده یی که تحت عنوان میثاق ملی نجات یاد شده حاوی این مطالب است:

بسم الله الرحمن الرحیم

ما به نام الله تعالی تعهد می کنیم که بخاطر نجات کشور از این حالت دردناک دست به دست همدیگر می دهیم تا جنگ را برای همیشه به بقیه ص ۴

اوباما پر کرزي فشار واچاوه چې همکاري زیاته کړي واشنګټن پوسټ

د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې نن لیکلي چې د امریکا جمهور رئیس براک اوباما د خپل ملک د مسلحو قواوو د اعلي قومندان په توګه افغانستان ته د خپل لومړني سفر په وخت پر جمهور رئیس حامد کرزي فشار واچاوه چې خپله همکاري زیاته کړي . د جمهور رئیس په توګه افغانستان ته د اوباما دغه لومړني شپږ ساعته سفر په تیاره کې تر سره شو.

د واشنګټن پوسټ یوه سروې ښیي چې افغانستان یو له ډیرو غټو مسئلو څخه دي چې دا وخت د اوباما په مخکې پرتې دي . ورځپاڼه لیکي، امریکا له کرزي نه غواړي چې په کارپوه حکومتي چارواکي مقرر کړي، د غلاګانو او په زور له خلکو نه د پیسو اخیستلو مخه ونیسي، د اپینو د قاچاق په خلاف مبارزه وکړي چې د روان تشدد سره مرسته کوي .

در انفجارهای انتحاری در متروی مسکو دست کم سی و پنج نفر کشته شدند

وقوع انفجارهایی در خطوط مترو پایتخت روسیه چندین کشته و زخمی برجای گذاشته است و مقامات قضایی علت انفجارها را حملات انتحاری دانسته اند.

براساس گزارش های رسیده از مسکو، پایتخت روسیه، در ساعات پر رفت و آمد روز دوشنبه، ۹ فبروری (۲۹ مارچ)، انفجارهایی در دو ایستگاه مترو مرکزی این شهر روی داده و دست کم سی و پنج نفر را کشته و شمار دیگری را زخمی کرده است. نخستین انفجار در ایستگاه لوبیانکا به وقوع پیوست و به گفته یکی از مقامات وزارت خدمات اضطراری روسیه، دست کم بیست تن را کشت و تعداد دیگری را هم زخمی کرد.

برخی از قربانیان این انفجار در داخل کوپه قطار و تعداد دیگری نیز هنگام انتظار بر سکوی ایستگاه کشته و زخمی شدند. ایستگاه بوبیانکا در نزدیکی دفتر مرکزی سازمان امنیت دولت روسیه - اف اس بی - قرار دارد. حدود یک ساعت پس از این انفجار، وقوع انفجار دیگری در یکی دیگر از ایستگاه های قطار شهری مسکو گزارش شد.

براساس این گزارش، حدود ساعت هشت و نیم بامداد به وقت محلی، انفجار در ایستگاه پارک کولتوری مسکو هم حداقل پانزده کشته و تعدادی زخمی برجای گذاشت.

مقامات مسکو گفته اند که براساس شواهد اولیه، دو نفر زن عامل این انفجارهای انتحاری بوده اند که ظاهرا به صورتی هماهنگ و به منظور وارد آوردن بیشترین تلفات، عملیات خود را به اجرا گذاشتند.

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپیڅلي نامه

ان شاالله نوی کال به د امن کال وی

داسې ښکاري چې نوی کال به تر ډېره حده د افغانانو د ارمانونو د پوره کېدو کال وي په دې کال د جنګ پر ځای د سولې او روغې جوړې خبرې زیاتې تر غوږو کېږي، حکومت او د هغه مخالفین د روغې جوړې خبرې نه ردوي، صفا څرګندېږي چې د تېرو کلونو په څېر د سولې خبرې هسې تشې خبرې نه، بلکې د اخلاص او صداقت څرك پکې موجود دی، دا لومړی ځل دی چې د افغانستان جنګ ځپلی ولس د سولې له خبرو اترو نه ډاډمن ښکاري، په راډیو، تلویزیون، ورځپاڼو، اونیزو او مرکو کې د روغې جوړې خبرې ګرمې دي.

د ملګرو ملتو ادارې، ناټو او امریکا د سولې د خبرو اترو ملاتړ ښکاره کړی، ګاونډیو هېوادو پخپلو منځو کې د افغانستان د سولې په اړه یو لړ تفاهمات تر سره کړي دي، ښاغلي کرزي پاکستان، چین او ایران ته، او د ایران جمهور رئیس افغانستان ته سفرونه کړي دي، تېرو ورځو کې د حزب اسلامي یو لوړ رتبه هیئت د قطب الدین هلال تر مشرۍ لاندې افغانستان ته راغلی او د کرزي په شمول ګڼو جهادي مشرانو سره یې هم کتلي دي. دا هر څه په دې ګواهي ورکوي چې ان شال الله نوی کال به د روغې جوړې کال وي.

په دې کې هېڅ شك نشته چې هر هېواد پخپلو اوسېدونکو آباد دی، افغانستان د افغانانو دی او د دې آباد ساتل هم د افغانانو ګډ مسوولیت دی.

اوږده جګړه موږ ته ثابته کړه چې خپلمنځي اختلافات او جنګ له تباهي او هلاکت نه پرته بل هېڅ ګټه نلري، که چېرته موږ له لومړۍ ورځې نه د جوش پر ځای له هوش نه کار اخیستی وای او خپل مسائل مو د خبرو اترو له لارې حل و فصل کړی وای، د خپل دین پر ځای مو د بل چا نظام نه وای مسلط کړی، پر خپل ولس مو د اعتماد پر ځای د بل چا په پوځونو اتکا او اعتماد نه وای کړی، د یو بل د پرځولو او پر حکومت په زوره د قبضه کولو ناروا هڅه مو نه وای کړې، نو نه به افغانان د جنګ په سرو لمبو کې وریت شوي وو او نه به هم د افغانستان استقلال او استحکام له خطر سره مخامخ شوی و، نه به پردیو هېوادو زموږ په هیواد کې په دومره پراخ مټ د لاسوهنې جرئت کړی وای او نه به هم په ګڼ تعداد کې افغانان خپل وطن پرېښودلو ته اړ شوي وو. دا ټول هغه څه دي چې مرتکبین یې موږ پخپله یو او د خپلو کړنو سزا ګالو. په دې خبره باید خپل سر خلاص کړو چې زموږ دا مشکل پخپله نه حل کېږي بلکې ددې مسوولیت زموږ په غاړه دی چې د حلولو لپاره یې متې راونغاړو او خپل دیني فریضه تر سره کړو.

الله تعالي موږ ته له فعلي مشکلاتو نه د وتلو ښه فرصت برابر کړی دی، نه ښایي چې دا له لاسه ورکړو.

که چېرته موږ ټولو د الله جل جلاله د دین دسر لوړۍ د اسلامي حکومت د قیام او استقلال لپاره مو لاسونه یو کړل او پخپلو کې مو د ورورۍ مضبوط لاسونه یو بل ته ورکړل نو د لوی الله په کومك او تائید به نه یوازې دا چې افغانستان د امن په کور بدل شي بلکې د اسلام او خاورې دشمنان به هم پخپلو شومو اهدافو کې د تل لپاره له ناکامۍ سره مخامخ شي.

د هوسا او سمسور افغانستان په هیله

آیا بحران افغانستان بسوی حل میرود؟

فدا محمد فایض

افغانستان در سی سال گذشته، یک بحران عظیم را پشت سر گذاشت و اکنون نیز ازین بحران نجات نه یافته است، اما در همین سی سال، بحران وقتاً فوقتاً ابعاد جدیدی بخود کسب نموده است.

آمدن روسها به افغانستان هنوز ده ساله نظامی آنها و حضور دست پروردگان منسوب به حزب دموکراتیک خلق یک بعد قضیه بود.

بعد از شکست روسها در افغانستان و خروج نیروهای روسی از خاک ما بعد دیگری به قضیه افغانستان بخشید، بدین معنی که بعد از شکست روسها در افغانستان همسایه ها و کشورهای بزرگ دنیا بویژه امریکا، اهداف جدیدی برای خود تعیین کردند، پاکستان از سال ۱۹۸۸ (۳۰) جون هدف جدیدی را در افغانستان با برنامه جدا کردن ولایات همجوار افغانستان و ضم کردن آن با خاک پاکستان، تعیین نمود ایران از طریق احزاب افغانی طرفدار خود خواست در افغانستان برای خود اهداف جدید سیاسی، اقتصادی و فرهنگی بمشخص نماید، امریکا هم در پی حضور فعال در شرق میانه، خلیج فارس وبالاخره افغانستان شد و برای رسیدن به این هدف، راهها و روشهایی را تدارک دید. کشورهای دیگر منطقه بویژه هندوستان، روسیه و کشورهای عمده عربی مانند عربستان سعودی و امارت متحده عربی هم درین راستا بی علاقه نماندند.

نباید فراموش کرد که میزان اثر گزاری ستراتیژیها و نفوذ کشورهای مذکور در کشور ما از جهات مختلف متفاوت است، ولی بهر هال افغانستان به یک مرکز عمده رقابتهای کشورهای دخیل در قضیه مبدل شده است، آمدن امریکا به بهانه حوادث یازدهم سپتامبر ۲۰۰۱ و به تعقیب آن ناتو بدون شک قضیه افغانستان را بیشتر از پیش داغ ساخت و رقابتها در افغانستان به اوج خود رسید چون کشورهای منطقه بشمول پاکستان از حضور نظامی امریکا در افغانستان، احساس خطر میکنند ازینکه توان رویارویی با امریکا و ناتو را در خود نمی بینند، از راههای دیگری سعی میکنند، امریکا را با چالشهایی در منطقه مواجه سازند.

چنانچه همین حالا امریکا احساس میکند که رسیدن به اهدافی در منطقه برایش آنچنان که فکر میکرد کار ساده یی نیست، ستراتیژی جدیدی بارک اوباما رئیس جمهور ایالات متحده ، دال بر این ادعاست. در حقیقت امریکا راهی را برای گریز در صورت شکست کامل ماشین جنگی آن بازگذاشت تا استدلال کرده بتواند که امریکا برای اشغال افغانستان نیامده بود. از همین جهت است که اخیراً چنان مینماید امریکا میخواهد راهی برای بحران پیدا کند، چون بعضی از اعضای ناتو مانند هالند و کانادا اعلان کرده اند که از افغانستان خارج میشوند، ممکن این راه را کشورهای دیگر عضو ناتو هم دنبال کنند، اگر دولتها نخواهند، ملتهای آنان بالای دولتهای خود فشار میآورند و دولتها مجبور اند به خواست ملتهای خود تن دردهند چنانچه دیدیم، حکومت هالند بر سر قضیه افغانستان سقوط نمود.

درین اواخر چند مساله در خور توجه است.

آمدن محمود احمدی نژاد رئیس جمهور ایران به کابل.

سفرهای حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان به پاکستان چین و اینک بتاریخ ۱۷-۱-۱۳۸۹ به ایران.

آمدن لوی درستیز پاکستان به افغانستان.

گرفتاری عده یی از سران طالبان از سوی پاکستان به عنوان چراغ سبز برای امریکا.

سفر یک هیات بلند پایه ملکی- نظامی پاکستان به امریکا که شاه محمود قریشی وزیر خارجه، احمد مختار وزیر دفاع، جنرال کیانی لوی درستیز و رئیس آی اس آی در ترکیب هیات شامل بودند.

رفت و آمد پی در پی مقامات امریکایی و انگلیس بویژه امریکایی به افغانستان و پاکستان.

آمدن یک هیات بلندپایه حزب اسلامی افغانستان به رهبری آقای حکمتیار به کابل و ملاقات آنها با دولت افغانستان و دیگر اطراف موثر برای حل قضیه و طرح یک راه حل مشتمل بر پانزده، ماده به ده لست غرض مناقشه، به گفته هارون زرغون سخنگوی حزب اسلامی در یک مصاحبه با رادیوی بی بی سی دولت میتواند مواد شامل طرح را کم و یا زیاد نماید و یا در آن تعدیل را پیشنهاد نماید.

بر اساس یک مصاحبه علی احمد جلالی وزیر داخله پیشین و اکنون پروفیسور در یک پوهنتون نظامی امریکا، که بتاریخ ۷ حمل از رادیو ازادی نشر گردید، امریکا اکنون متقاعد شده است که بپذیرد، پاکستان نقش عمده و کلیدی را در حل قضیه افغانستان میتواند ایفا نماید.

آنچه قابل تامل است این است که:

مقاومت طالبان و تقویت دراز مدت آنان از سوی پاکستان بعید به نظر مینماید، چون این حقیقت اکنون از نظر جهان پوشیده نیست و بالاخره پاکستان هم روزی با یک عکس العمل شدید مواجه شدنی است.

ممکن نیست دنیا بار دیگر زمام امور افغانستان را به دست طالبان بسپارد. من نمیدانم که طالبان تا چه حد این حقیقت را درک نموده اند که آنها بحیث ابزار مورد استفاده قرار میگیرند. نه اینکه بار دیگر توجه دنیا را بحیث یک قدرت سیاسی قابل حساب بخود جلب کنند.

بناءً این همه حقایق در حقیقت چراغ سبزی است که قضیه افغانستان باید دیگری بسوی حل برود. البته درین حل هم اهداف امریکا تا حد زیادی در نظر گرفته خواهد شد و هم همسایگان بویژه پاکستان.

دولت جدیدی هم که اگر در نتیجه مذاکرات و تفاهمات بمیان میاید با یک سلسله تعهدات هم در برابر جامعه جهانی بویژه امریکا و هم در برابر کشورهای همسایه بویژه پاکستان بوجود خواهد آمد.

از طرفی هم دولتی که جدیداً تشکیل خواهد شد با توجه به ساختار وبافتهای قومی- سیاسی افغانستان بعید می نماید که یک حکومت یا دولت کاملاً غیر ائتلافی و تک حزبی باشد چون از یک طرف هیچ حزبی در افغانستان به آن پختگی نرسیده است که به تنهایی بتواند حکومت کند و از طرف دیگر احزاب و گروههای خارج از دولت نه تنها اینکه با دولت هیچنوع همکاری نمیکنند بلکه از هر طریق ممکن دست به تخریب و تضعیف دستگاه حاکم خواهند زد و کشور را بار دیگر با چالشها مواجه خواهد ساخت.

د شهید استاد محمد عبدالرحمن لنډه پېژندنه

شهید استاد عبدالرحمن چې اصلي نوم يې محمد دی د هلمند ولايت د ګرشک ولسوالی. د قلعه ګز نومي په يوه ديندار ه کورنۍ. کې سترګې پرانستې نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې د خپلې سيمې په يوه ښوونځي کې له تر سره کولو وروسته په کال ۱۳۴۸ هـ ش کې د لښکرګاه د ليسې په اووم ټولګي کې شامل شو د دولسم ټولګي د فراغت د سند له تر لاسه کولو وروسته په کال ۱۳۵۴ هـ ش کې د کانکور په ازموينه کې د کابل زراعت پوهنځي ته بريالی شو. په کال ۱۳۵۷ هـ ش کې د کمونستانو د غوايي کودتا نه وروسته په دريم صنف کې خپلې زده کړې پرېښودې او ګاونډي هېواد پاکستان ته مهاجر شو. شهيد استاد له روسانواو د هغوی د ګوډاګيانو په خلاف جهاد کې پراخه ونډه درلوده، نوموړی د فراه ولايت د جهاد ولايتي آمر، د جنوب غرب د حوزې د مهاجرينو رئيس او دعوت تنظيم مسئول هم پاتې شوی دی. شهيد استاد د جهاد او دعوت سرګرم رکن، او د اسلام د دين ستر داعي و. د جمعې په مبارکه ورځ په داسې حال کې د نا څرګندو وسله والو په ناتارو ډزو کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. چې پخپل کلي کې د جمعې د لمانځه د ادا کولو په نيت مسجد ته روان و. لوی الله دې د هغه شهادت پخپل دربار کې قبول او فردوس جنت دې ورته په نصيب کړي. آمين.

مظلوم شهيده!

محمد خليل

دا د الله نه بدلېدونکې فيصله ده چې هر انسان له خپل ټاکلي عمر نه وروسته له دې پاتې نړې څخه سترګې پټوي او تلپاتې نړې ته ورځي. دا د لوی او عادل الله داسې غوڅه پريکړه ده چې په ټولو انسانانو يو برابر جاري کېږي، څکه خو د حضرت آدم عليه السلام نه نيولې تر آخري نبي محمد صلي الله عليه وسلم پورې ټول انبيا او اوليا لدې پاتې نړۍ څخه تلپاتې نړۍ ته ورغلي دي.

هر انسان هره شېبه د مرګ غشي ته ولاړ وي او کله هم په يقيني توګه نشي ويلې چې زه به دومره کاله، دومره مياشتې، دومره ورځې، دومره ساعته او يا دومره دقيقې او ثانيې ژوندي يم څکه خو هر څوک له وړاندې نه خپل مرګ ته تيار وي او هر چا له وړاندې نه دا حقيقت منلی وي چې ژوند د الله له لوري امانت دی او هر کله چې وغواړي واپس يې اخيستلی شي.

شهيد (محمد) چې په استاد عبدالرحمن مشهور و د خپل ټاکلي عمر له تېرولو وروسته له دې دنيا څخه سترګې پټې کړې، الله تعالي دې ورته د خپلې مهرباني له مخې اووه واړه جنتونه په نصيب کړي. آمين.

له دې پاتې نړۍ څخه خو هر انسان پخپل نوبت کوچ کوي مګر هغه څوک نيکبخت دې چې د ايمان او يقين په حالت کې مړ شي او له ځان سره د توحيد عقيده او نيک عملونه يوسي. داسې خلک که ظاهراً مړه هم دي خو په حقيقت کې ژوندي دي او د جنت نعمتونه خوري. شهيد استاد عبدالرحمن هغه څوک و چې خپل ټول ژوند يې د الله د رضا د اسلام د سرلوړي او اسلامي حکومت د قيام لپاره وقف کړی و، نوموړی د حزب اسلامي له هغو سابقه ورونو څخه و چې د الحاد او دهريت پوچې عقيدې پر خلاف د مبارزې بيرغ اوچت کړی و که څه هم هغه په زراعت پوهنځي کې زده کړې کړې وې مګر په قرآن، حديث او ديني علومو کې دومره ماهر و چې خلکو به ورته مولوي صاحب عبدالرحمن ويل. په دين باندې د هغه دغه پوهه پدې حقيقت دلالت کوي چې نوموړي د الله تعالي له سپېڅلي دين سره بې کچه مينه درلوده. استاد عبدالرحمن متواضع، صابر او حليم انسان و د هغه په طبيعت کې د تکبر او لويې آثار له سره نه ښکاره کېدل. خوږ ژبې، مدلل او پسته لهجه يې درلوده. د هغه د ښه او غوره اخلاقو په وجه پر هر چا ګران و، قناعت پسندي او اصول پسندي د هغه فطرت و، درنه ناسته او ولاړه يې درلوده او کله هم بېهوده او خوشې خبرې له خولې نه ويستلې. له الله نه ويرېدونکی او پنځه وخته د جمعې لمانځه پابند و، له مطالعې سره يې ډېره مينه وه او په هره موضوع کې زړه پورې معلومات يې وړاندې کول. ددې ټولو تر څنګ د الله د لارې مهاجر او مجاهد و. کله چې په افغانستان کې د روسانو په مرسته کمونيستي حکومت قايم شو او روسي يرغلګرو افغانستان اشغال کړ نو استاد عبدالرحمن له خپلو نورو ملګرو سره يو ځای د جهاد سنګر ته ودانګل. د اسلام او خاورې د دفاع لپاره يې خپل سر په تلي کې ونيوه. د خپلې ځوانۍ بهترين عمر يې له اشغالګرو ځواکونو سره په جهاد کې تېر کړ او په دې ميدان کې نه هېرېدونکي کارنامې يې پرېښودې، مګر په دې دنيا کې د هغه آب او نمک لا پاتې و، د بم او باروتو له سرو لمبو نه ژوندی ووت او دخپل پاتې عمر له پوره کولو نه وروسته د هلمند ولايت په ګرشک ولسوالۍ کې د جمعې په مبارکه ورځ هغه مهال د نا معلومو وسلوالو کسانو په ناتارو ډزو د شهادت خوږ جام وڅښلو چې نږدې مسجد ته د جمعې د لمانځه د ادا کولو په نيت روان و. هغه لپاره همدا لوی نعمت او افتخار بس دي چې د شهادت لوی مقام يې تر لاسه او د شهيدانو په هغه قافله کې شامل شو چې الله جل جلاله په خپل کتاب قرآن کريم کې د هغوی د فضيلت په باب داسې فرمايلي دي. ترجمه: هغه چاته مړه مه وايئ چې د الله په لاره کې وژل شوي دي بلکې هغوي ژوندي دي خو تاسې پرې نه پوهېږئ.

اعلاميه حزب اسلامی افغانستان بمناسبت شهادت استاد عبدالرحمن

با ابراز تاسف اطلاع حاصل نموديم که يکی از شخصيت های جهادی و عضوی شورای رهبری حزب اسلامی افغانستان مرحوم محمد، مشهور به استاد عبدالرحمن هنگاميکه برای ادای نماز جمعه از خانه اش به سوی مسجد در حال حرکت بود بتاريخ ۶ حمل روز جمعه ساعت ۱۲ ظهر در ولسوالی گرشک ولايت هلمند توسط افراد مسلح ناشناس به شهادت رسيد.

شوری رهبری و اعضای حزب اسلامی افغانستان اين عمل وحشيانه و غير انسانی را محکوم مينمايد.

استاد عبدالرحمن يکی از شخصيت های جهادی و وطندوست کشور بوده که بيشتر عمر عزيز خويش را در جهاد عليه روسهای اشغالگر سپری نمود.

حزب اسلامی افغانستان قتل ظالمانه استاد عبدالرحمن را تقبيح نموده و از خداوند متعال برای او بهشت برين و برای بازمانده گانش صبر جميل استدعا مينمايد.

انا لله و انا اليه راجعون

شګفته کړه لکه لمر تندی هر چاته، چې په تګ دې سياه پوش تمام جهان شي

شهادت جریده

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال: عبدالخلیل (محمد خلیل)
اړیکو شمېره: ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۶
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
ادرس د حزب اسلامي دفتر: سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

نبوي ارشاد

له حضرت عایشې رضي الله عنها څخه روایت دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: زه په خوب کې جنت ته لاړم هلته مې د قرآنکریم د تلاوت آواز تر غوږو شو، ما وویل دا څوک دي چې قرآن لولي؟ پرښتو وویل چې دا حارث بن نعمان دي. رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل له مور او پلار سره د ښېګنې ثواب همداسې دي دا یې درې ځلې تکرار کړه او حارث بن نعمان له خپلې مور سره ډېر نېکي کوونکي و. مشکوات

سفر غیر منتظره اوباما...

ادامه خواهد یافت. ما پیشرفت در عملیات نظامی علیه افراطیگری در منطقه را مشاهده کرده ایم".

باراک اوباما سپس در فرودگاه بگرام در پنجاه کیلو متری شمال کابل برای شماری از سربازان امریکایی سخنرانی کرد. او در این نطق شبکه القاعده را نه فقط خطری برای امریکا و افغانستان بلکه تهدیدی جدی برای مردم سایر کشورها دانست. اوباما شورشیان طالبان را دشمن مصمم دانست، اما تاکید کرد امریکا هم مصمم است به اهدافش در افغانستان برسد و در نهایت پیروز خواهد شد.

این اولین سفر اوباما به افغانستان به عنوان رئیس جمهوری امریکاست.

دولت او در حال آغاز استراتژی جدیدی در منطقه است که بخشی از آن بر افزایش نیروهای امریکایی در افغانستان مبتنی است. آقای اوباما در ماه دسامبر گذشته دستور اعزام ۳۰ هزار نیروی کمکی به افغانستان را صادر کرد.

به گفته مقام های افغان، آقای اوباما از طرح مذاکره با طالبان که در اواخر ماه جنوری در کنفرانس لندن از سوی مقامات افغانستان مطرح شد حمایت کرده است.

در عین حال امریکا اخیرا مذاکراتی "استراتژیک" با پاکستان انجام داده است که یکی از محورهای اصلی آن کمک پاکستان به حل مساله افغانستان در چارچوب استراتژی امریکا در منطقه است.

جنګ د هیچا په ګټه نه دی

عبیدالله صافی

د امریکا جمهور رئیس بارک اوباما د تېرې یکشنبې په ماښام په ناڅاپي توګه د لنډې مودې لپاره افغانستان ته راغی او له حامد کرزي سره له لیدنې کتنې وروسته په بګرام کې میشته امریکایي پوځیانو ته یې پخپل یو خطاب کې وویل: په افغانستان کې د امریکایي پوځونو شتون د امریکا، اروپا او پخپله د افغانستان د سالمیت لپاره مهم دی، نوموړي حامد کرزي ته د مۍ په ۱۲ مه نېټه امریکا ته د راتلو رسمي بلنه هم ورکړه.

د اوباما په دې، اعلان شوي او ناڅاپي سفر سیاسي شنونکي خپل خپل نظریات وړاندې کوي خو په یقیني توګه هېڅوک څه نشي ویلي چې هغه افغانستان ته په کوم مقصد راغلی و؟ الله دې وکړي چې نېک مقصد لپاره راغلی وي. البته افغانان د اوباما دغې خبرې چې په افغانستان کې د امریکایي پوځونو شتون د امریکا اروپا او افغانستان د سالمیت لپاره مهم دی، اندېښمن کړي دي. ځکه چې تر څو پورې بهرني پوځونه په افغانستان کې موجود وي، جګړه به هم روانه وي او بې ګناه ولسي وګړي به پکې دل کېږي په داسې حال کې چې د افغانستان جنګ ځپلي ولس نه غواړي چې د هغوي تاتوبي دې د جنګونو په لمبو کې وریت او وینې یې وبهېږي بلکې د افغانانو غوښتنه داده چې د جنګ اور مړ او هېواد ئې د امن زانګو وګرځي.

د ټول عمر تجربو دا په ګوته کړې چې په افغانستان کې د جنګ له لارې امن نشي راتلي ځکه چې د جنګ معنا او مفهوم همدا دی چې انسانان ووژل شي، کلي کورونه او بازارونه ویجاړ شي او د خلکو شتمني تباه شي.

د امریکا په مشرۍ د ناټو ځواکونو او مخالفو وسله والو تر منځ تېره اته کلنه جګړه همدا ثابتوي چې په دې جګړه کې له انساني او مالي ضیاع نه پرته بل هېڅ ګټه نده تر لاسه شوې او د وخت په تېرېدو سره ددغو تاوانونو کچه نوره هم زیاتېږي. حقیقت دادی چې جنګ د هیچا په ګټه ندی، نه امریکا او اروپا ته څه ګټه رسولي شي او نه هم افغانستان ته.

که په جنګ کې څه ګټه وای نو د تېرو اتو کلو په اوږدو کې به مو دغه ګټې هرو مرو تر لاسه کړي وای، نه به مو د سر تاوان کړي و او نه به مو د مال، اخر داسې جنګ چې خوراک یې انساني ککرې او پیسې وي څنګه د انسان په ګټه تمامیدلی شي.؟ جنګ د قهر او غوصې محصول دی او سوله د نارمل او آرام دماغ، قهر داسې یو لیونتوب دي چې د هیڅ درد دوا نشي کیدلی. آیا دا به ښه نه وي چې د قهر د لیوني جذباتو پر خای د عقل او پوهې له جذبو څخه کار واخیستل شي او ټول مسایل په ساړه دماغ، سالم عقل او انساني عاطفي له مخې حل وفصل کړي شي، یقیناً چې د عقل فیصلو تل لپاره انساني ټولنې ته مثمرې نتیجې ورکړي دي او د قهر فیصلو تل لپاره انساني ټولنه په جهنم بدله کړې ده.

که په انساني نړۍ کې هر څوک د خپل ځان په څېر بل چاته هم د انسانیت په سترګه وګوري او د هغه د ځان، مال او استقلال احترام د خپل ځان، مال او استقلال په څېر وکړي نو په هېڅ صورت کې به د جنګ او جګړې نوبت رانشي. انسان داسې یو کمزوري مخلوق دي چې تر ډېره وخته کړاوونو ته غاړه نشي ایښودلی او بالاخره امن ته اړ کېږي. آیا دا به ښه نه وي چې له ډېرې تباهۍ او بربادۍ نه مخکې د ندامت پر ځای همدا اوس د امن لاره تعقیب شي او ټول مسایل د خبرو اترو له لارې په ساړه دماغ له همدي نن نه حل وفصل شي، الله دي وکړي چې عقل په قهر غلبه ومومي او ټولې فیصلې د عقل په رڼا کې تر سره شي.

پیام تسلیت بمناسبت حادثه سقوط و حریق موتر های حامل خانواده های مهاجر در دره سالنگ

با تاسف عمیق اخیراً اطلاع حاصل نمودیم که فامیل های مجاهد و مهاجرینی که از ترس وحشت اهریمن وقت در ولسوالی نهرین ولایت بغلان سالها قبل خانه و کاشانه شان را به قصد دیار هجرت ترک گفته بودند زمانیکه میخواستند دوباره بعد از سالیان متمادی روانه دیار آبایی خویش گردند، متاسفانه در مسیر راه موتر های حامل شان حریق و به داخل دره سقوط می نماید که از اثر آن به تعداد ۳۷ تن شهید و زخمی میشوند. بدینوسیله یکبار دیگر تاثرات قلبی خویش را نسبت به این حادثه غم انگیز ابراز نموده برای شهدا بهشت برین و برای مجروحین از خداوند منان شفای عاجل را تمنا مینمائیم.

انا لله و انا الیه راجعون

حزب اسلامی افغانستان

طرح پیشنهادی حزب اسلامی افغانستان...

پایان برسانیم، امنیت اطمینان بخش را در کشور تامین کنیم، افغانستان فارغ از عساکر خارجی و مصؤن از تشبثات بیگانگان را بسازیم، وحدت ملی خویش را پخته و محکمتر کنیم و به ملت این موقع را فراهم بسازیم که زعامت مورد پسندش را انتخاب و نظام طبق عقیده و باورش را تشکیل دهد. بخاطر رسیدن به همچو اهداف بلند و مقدس ما به طرح آتی به توافق رسیده ایم که:

۱. عساکر وقوت های خارجی تا ماه جولای سال جاری میلادی سلسله خروج را از کشور آغاز و در خلال شش ماه آنرا مکمل کنند.

۲. در این مدت عساکر خارجی از شهر ها و مناطق مزدحم بیرون شده و در مراکز نظامی و عسکری جابجا شوند.

۳. امور امنیت بصورت کامل برای اردوی ملی و پولیس سپرده شود. عساکر و قوای خارجی در هیچ گوشهء افغانستان و در هیچ حالتی حق ندارند که به عملیات نظامی خود سرانه، تلاشی خانه ها و گرفتاری ها متوسل شوند.

۴. حکومت و پارلمان کنونی تا زمانی به کارش ادامه بدهد که مطابق این معاهده، انتخابات برگزار و در نتیجه آن شورای منتخب و حکومت جدید بمیان آید. مگر در این حکومت چهره های متنازع فیه و متهم به فساد، خیانت ملی، بی دینی و جنایات جنگی شامل نباشند. به همین ترتیب مسؤولین قوای امنیتی سه گانه از کسانی نباشند که به طرفداری از یک گروه در مقابل گروه دیگر جنگیده باشند.

۵. به اتفاق همه جهت ها تحت عنوان امنیت ملی چنان شورای هفت نفری ساخته می شود که در رابطه به مسایل مهم ملی اختیار و صالحیت فیصله های نهایی با ایشان باشد. مقر این شوری در ولایتی باشد که امنیت آن بصورت کامل بدست قوت های افغانی بوده و حضور هیچ قوت خارجی در آن محسوس نباشد.

۶. پس از خروج قوت های خارجی در بهار سال ۱۳۹۰ به اساس تمثیل متناسب برای ریاست جمهوری، ولسی جرگه و شورا های ولایتی به یکبارگی و همزمان انتخابات صورت بگیرد.

۷. اعضای کابینه و والی ها تنها در صورتی حق اشتراک در این حکومت را دارند که سه ماه قبل از تاریخ مشخص شده انتخابات، از وظیفه اش استعفا نماید.

۸. در حکومت منتخب اول سهم هر جهت به تناسب آراء آن بوده و رای اعتماد از شوری را بدست می آورد، اما بعد از این، جهت کامیاب به این مکلف نیست که حکومت ائتلافی را تشکیل دهد.

۹. آن حزب و مجموعه در انتخابات بعدی حق اشتراک را دارد که در انتخابات اول بیشتر از ده در صد رای را بدست آورده باشد.

۱۰. در این مدت در میان جهت های درگیر در جنگ اوربند کامل تامین می شود، همه زندانیان سیاسی رها می شوند، همه جهت ها تعهد می کند که پس از این نه برای رسیدن به قدرت طرق ناروا را جستجو کنند و نه هم کسی بخاطر سرکوبی حریف و رقیبش به اسلحه متوسل شود.

۱۱. شورای منتخب اول حق این را دارد که قوانین اساسی اعلان شده هر سه جهت را بررسی نموده و در رابطه با قانون اساسی کشور فیصله نهایی را صادر نماید.

۱۲. هیچ کشور خارجی حق ندارد که در افغانستان دارای زندان باشد، کدام افغان را محاکمه و مجازات کند، یا جهت محاکمه به خارجی انتخاب داده و در جای دیگر محبوس و محاکمه کند.

۱۳. اشخاص متهم به اختلاس، قاچاق مواد مخدر، غاصب سرمایه های ملی و جنایت کاران جنگی به محکمه شرعی سپرده می شوند و هیچ جهتی به صورت آشکار و یا سری از آنان دفاع نمی کند.

۱۴. پس از خروج قوت های خارجی جنگجویان خارجی نیز در افغانستان نمی باشند.

۱۵. جهت های داخلی و خارجی که با این میثاق صلح و آشتی مخالفت نموده و بر ادامه جنگ پا فشاری نمی نمایند، ما همه بصورت مشترک و تا آنگاه بر ضد جنگ طلبان مقابله می کنیم که کشور و مردم خود را از شر آنها نجات بدهیم.

والله علی ما نقول وکیل